مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی
۲۰۱۹/۰۱/۲۱

# هو، ژوند ښکلی دی!

ژوند هڅه ده، مینه ده او بدلون دی. ژوند احساس دی، ژمنه ده او رغون دی. ژوند د فرصتونو، ازمېښتونو او غورزو پرزو ډګر دی. ژوند د هغه مزل نوم دی چې د پیدایښت له لمرۍ کړیکې سره پیل او د سلګۍ تر وروستی شیبې پورې د منزل په لټون پسې روان دی. ژوند د خودۍ او لاخودۍ ترمنځ د هویت او معرفت یوه پانګه ده. ژوند د لاهوت او ناسوت ترمنځ توپیر دی، یو ځېرکی او عنوان دی. ژوند هم لمبه ده، هم ځرېکه او هم سکون دی. ژوند امانت دی، ژوند وفا ده او ژوند د مځکې پر مخ د خالق استازیتوب دی.
د ژوند، ژوندون او ژوندیو درناوی هم آغاز دی هم انجام دی. ژوند پدې خاطر قیمتی دی چې یو ځل ترلاسه کیږي، کوم چې غوړیږي، تازه کیږي او انسان د انسانیت معراج ته رسوي. ژوند د فرد او ټولنې ترمنځ د شعور یوه داسې اړیکه ده چې د فولادو په څېر مزبوته او د ورېښمو په شان نرمه ده. ژوند یوه داسې متاع ده چې که ورکه شي نو بیرته ترلاسه کول یې شوني ندي. او ژوند یوه داسې ارزانه صدقه ده، چې پر مخ د موسکا شال غوړوي او د زړه په تل کې د هیلې یوه تته ډیوه بلوي.
ژوند ښکلی دی خو هلته لا ښکلی شي چې د بل خوښي تا خوښ او د بل کړاو تا وکړوي. ژوند هله رنګین شي چې مظلوم د ظالم له تیري خلاص او زور واکي له زور څخه منعه شي. ژوند هله خوندور شي چې د بې اسرې اوښکې وچې او دبې وسه لاسنیوی وشي. ژوند هلته لا زیات ویاړمن او قدرمن شي چې د غچ په ځای ښېنه غوره وګڼل شي او ستونزې ته د تسلیمی په ځای د مقابلې تکل پیدا شي. همدا وجه ده چې د ژوند تر ټولو بد دښمن نا امیدي ده او ښه دوست یې له همده سره یاري او دلبري ده.
ژوند ځکه ښکلی دی چې الله تعالی (۱۴۵) ځلی پخپل سپیڅلي کتاب کې د هغه ذکر او یادونه کړیده. بلکې په ځرګندو ټکو سره یې فرمایلي چې د یو انسان د ژوند ژغورل لکه د ټول بشریت د ژوندي کولو په شان دي. ژوند پدی خاطر ښکلی دی چې ټولو اسماني ادیانو او بشري قوانینو د بیګناه انسان وژل او د هغه د وینې تویول ګناه او ستر جرم ګڼلی دی. ( وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُتَعَمِّداً فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَاباً عَظِيماً- او هرڅوک چې بل مومن په قصد سره ووژني، نو جزا یې جهنم او تل به پکې وي. الله به ورباندی په غضب، په لعنت به یې اخته او ډیر لوی عذاب یې ورته تیار کړیدی).
ژوند ځکه ښایسته دی چې رسول الله (ص) یې ارزښت او مقام د کعبې له حرمت سره پرتله کړی او داسې یې فرمایلي: ( لأن تهدم الكعبة حجراً حجراً أهون عند الله من أن يراق دم امرئ مسلم ـ که کعبه ډبره ډبره شي، بیا هم د الله په وړاندی دومره ارزښت نلري څومره چې د یو مسلمان د وینې د یو څاڅکي تویول دي) یو مشهور صحابي ابو درداء روایت کوي چې ما له رسول علیه السلام څخه اوریدلي ( كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَغْفِرَهُ ، إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا، أَوْ مُؤْمِنٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا- ښایي الله هره ګناه وبښي، مګر دا چې څوک مشرک مړ شي او یا هغه مومن او مسلمان چې بل مومن په قصد سره ووژني).
اوس دی د شهادت او خلافت پتنګان، دغه وژني او ځوروني د خپل ایمان په آینې کې وګوري چې د ځلوېښتو کالو راهیسی د جنتي فتواګانو او دوزخي جنګونو پدی ټیل ماتیل کې دوئ تر کومې کچې دغه شرعي احکام په پام کې نیولي او عملي کړیدي؟ آیا د هجرت، جهاد او غزا شرعي احکام یوازې د همدی سیمې د مسلمانانو لپاره نازل شوي که په نړۍ کې یو اعشاریه اوه ملیارده نور مسلمانان هم ورته مکلفیت او دنده لري؟ آیا دغه ډلې او ګروپونه چې لاسونه یې د بیګناه انسانانو په وینو تر څنګلو سره دي، کله یې هم دیته پام شوی چې د اسلامي شرعیت له مخې د هغه ماشوم وژل او د جنین غورځول هم حرام دي کوم چې لا د مور په ګیډه کې وي او مسلمان هم نه وي؟
نو راځئ د ستیجونو، قبرونو او محرابونو له څنګه یو غږ شو، یو تکل شو، یوه چیغه او یو فریاد شو چې: جنګ بس دی، نور ویرونه، غمونه او بمونه نه غواړو. پریږدی چې د ویرې، کرکې او وژنې په ځای د مینې، پخلاینې او ژوند کولو کلتور پیاوړی کړو، ځکه چې ژوند ښکلی دی. هو، ژوند ښکلی دی!!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ